# اعلیٰ حضرت او
# عِلمِ حدیث

**30-September-2021**




هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتماع کښې کیدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# اعلیٰ حضرت او عِلمِ حدیث

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو**! چې کله جُمات ته داخل شئ، چې یاد مو وي نو د اِعتِکاف نِیَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کیږي.

یاد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کیدو یا پیشمني او روژه ماتي کولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم یا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِیَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شریف فضیلت

نبیٔ اکرم، نورِ مُجَسَّم ارشاد فرمائي: چا چې په کتاب کښې په ما دُرُودِ پاك اولیکلو، تر څو پورې چې زما نوم په هغې کښې وي، فرښتے به د هغه د پاره د بخښنې دُعاګانې کوي.[1]

نبی کی شان میں ہو جس قدر دُرُود پڑھو | مُحِبّو پاؤ گے جنت میں گھر دُرُود پڑھو(1)

[1]...معجم اَوْسط، جلد:1، صفحه:497، حدیث:1835۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

مُحترمو اسلامي ورونړو! ثواب حاصلولو د پاره د بیان اوریدلو نه مخکښې ښه ښه نِیَّتونه کوو: فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: "اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّیَّۃُ الصَّادِقَۃُ" رښتینے نیت بهترین عبادت دے.(2)

اے عاشقانِ رسول! نیك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِیَّتونه زیات وي هغه همره به ثواب هُم زیات کیږي.

❀ د عِلمِ دِین حاصلولو نِیَّت اوکړئ او نور دا نیتونه اوکړئ چې ❀ نظر به ښکته ساتم او ښه په غورسره به بیان اورم. ❀ چې څومره کیدے شي د ډډه وهلو په ځائے به د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت د اَلتَّحِیَّات په شکل کښې کښینم ❀ د علم زده کولو د پاره به پوره بیان اورم ❀ د بیان په دوران کښې به د سُستئ نه ځان بچ ساتم ❀ د خپلې اصلاح د پاره به بیان اورم ❀ څه چې واورم نورو ته به ئې د رَسَولو کوشش کووم.

## کشتئ غاړې له څنګه راغله....؟ (کرامتِ اعلیٰ حضرت)

صَدْرُ الشَّرِیْعَہ مُفتـی محمد اَمجَد علی اَعظمی رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ چې د بهارِ شریعت مصَنِّف دے، د هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ بیان دے چې یوه ورځ مونږه د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په خدمت کښې حاضر وو او اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د حدیثِ پاك درس راکولو.

---

[1]...نورِ ایمان، صفحه:56ملتقطاً۔
[2]...جامع صغیر، صفحه:81، حدیث:1284۔

خومره علمي، شوق والا، د عشقِ رسول نه ډك ماحول به وو چې درسِ حديث وركولو والا اعلیٰ حضرت اِمامِ اهلِسُنَّت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دے او درس اوريدونكے څوك دے؟ ماهر عالِمِ دِين مُفتی محمد اَمجَد علی اَعظمی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او د هغوئي نور ملګري. د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عادتِ كريمه وو چې د درسِ حديث وركولو په موقع به هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بل يو طرف ته هم تَوجُّه نه وركوله، په ډيره تَوجُّه سره، په اوداسه كښېنې به با آدابه كښيناستلو، د حديثِ پاك د اَهَمِّيَّت د لحاظ ساتلو سره به ئې په ډير شوق سره د حديثِ پاك درس وركولو. د مُفتی محمد اَمجَد علی اَعظمی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيان دے: نن چې (مونږه داعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه درسِ حديث اخستلو نو يوه عجيبه واقعه اوشوه: هغه دا چې) اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خلافِ عادت د درسِ حديث په دوران كښې د خپل مَسنَد نه پاڅيدلو او چرته ئې تشريف يوړلو، 15 منټه پس ئې بيرته تشريف راوړو نو په مخ مبارک ئې د پريشانئ آثار ښكاريدل، داسې معلوميده چې په جور سوچ كښې ډوب دے. نوره د حيرانتيا خبره دا وه چې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لاس مبارك او لِستونړي په اوبو لامده وو، ما (يعنې مُفتی محمد اَمجَد علی اَعظمی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) ته ئې اوفرمائيل: بله وچه كُرته راوړه!

**صَدْرُ الشَّرِيْعَه** مُفتی محمد اَمجَد علی اَعظمی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بخپله حيران وو چې آخر څه واقعه شوي ده؟ خو ظاهره ده اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د **صَدْرُ الشَّرِيْعَه** اُستاذ هم دے، پير صاحب ئې هم دے، **صَدْرُ الشَّرِيْعَه** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير ادب كولو، په دې وجه ئې ترينه تپوس نه شو كولے. بهرحال هغوئي زر لاړلو ، وچه كُرته ئې راوړه، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه كرته واغوستله او بيا ئې درسِ حديثِ وركول شروع كړو.

**صَدْرُ الشَّرِيْعَه** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: دا عجيبه خبره ما په زړه كښې اوساتله، ما هغه ورځ، تاريخ او وخت اوليكلو. د دې واقعے نه 11 ورځې پس څه خلقو تحفے راخستي وے او حاضر شو، څه ساعت په خدمت كښې د اوسيدلو نه پس چې هغه خلق بيرته تلل، نو

ما د هغوئي نه د حال پوښتنه اوکړه چې تاسو د کوم ځائے اوسیدونکي ئې؟ اوس د کوم ځائے نه راغلي وئ او څنګه راغلي وئ؟ نو هغه خلقو خپله واقعه بیان کړه چې مونږه په فلانکي تاریخ په کشتئ کښې سفر کولو، ناڅاپه تیزه سیلئ شروع شوه، د سیلئ په وجه چپے تیزې شوے، کشتئ ټالئ وهل شروع کړل او مونږ ته خطره پیدا شوه، نزدې وه چې کشتئ اَووښتې وے او مونږ ډوب شوي وے، د دې پریشانئ په عالَم کښې مونږه ټولو د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په وسیله د **الله** پاك په بارګاه کښې دُعا اوکړه. اے **الله** پاکه! د اعلیٰ حضرت په برکت مونږ ته د دې طوفان نه نجات راکړې. د دې سره مونږه نَذر هم اومنلو [یعني څه منښته مو اوکړه].

بس چې مونږ څنګه دُعا اوغوښتله نو ناڅاپه مونږ اولیدلو چې یو کس د کشتئ خوا ته راغلو او د کشتئ یو طرف ئې اونیولو او مونږه ئې د دریاب غاړې ته را اورسولو. اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په وسیله **الله** پاك مونږه د ډوبیدلو نه بچ کړو. کومه منښته مو چې کړې وه، نن هغه نذر پوره کولو د پاره د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په خدمت کښې حاضر شوي وو. [1]

| | |
|---|---|
| تیرا اُونچا مرتبہ ہے اے امام احمد رضا | مصطفےٰ کی تُو عطا ہے اے امام احمد رضا |
| کیوں کریں نہ ذِکر تیرا حشر تک پیارے بھلا؟ | تُو تَو رحمت کی رِضا ہے اے امام احمد رضا |
| سُنِّیوں کو خوف کیونکر ہو بھلا مَنْجدھار سے | جبکہ تُو ہی ناخُدا ہے اے امام احمد رضا |

**د شعر مطلب**: اے زمونږه امام، امام احمد رضا خانه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه! زمونږه د عاشقانِ رسول په دریاب کښې د ډوبیدلو خطره څنګه کیدے شي؟ چې زمونږ د کشتئ چلوونکے ستاسو په شان عَظِیمُ الشَّانه راهنما دے.

1 ...حیاتِ اعلیٰ حضرت، جلد:3، صفحه:255۔

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** 25 **صَفَرُ الْمُظَفَّر** راروان دے، د عاشِقانو د اِمام، عاشقِ رسول، اعلٰی حضرت اِمام اهلِسُنَّت مولانا شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه یومِ عُرس را روان دے. **اَلْحَمْدُلِلّٰه!** په ټوله دُنیا کښې عاشقانِ رسول په شوق او مَحبَّت سره د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عرس مناوهي. د عرسِ اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په مُناسبت سره به مونږه نن **اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم!** د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ذِكرِ خير اوریدلو سعادت حاصلوو. نن زمومونږ د بیان موضوع ده: **اعلٰی حضرت او علمِ حدیث.**

## حدیثِ څه ته وائي؟

بنیادي طور زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ژبې مبارکې نه ادا شوو الفاظو ته، د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاکو افعالو او مبارکو احوالو ته **حدیث** وائي. البته بعضې وخت د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان او تابعینو (یعنې هغه خوش نصیبه انسانان چا چې د اِیمان په حالت کښې د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان زیارت کړے وي د هغوئي) اقوالو ته هم حدیث وائي. د حدیثِ پاك باقاعده عِلم دے، دا ښودلے کیږي، په مدرسو کښې د دې تعلیم ورکولے کیږي، د اعلٰی حضرت اِمامِ اهلِسُنَّت، شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د احادیثو لوستلو څومره شوق وو؟ هغوئی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به په احادیثو څومره پوهیدلو او د احادیثو نه مسائل راویستلو کښې څومره ماهر وو؟ بیا اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به نورو ته د احادیثو رسَوَلو څومره شوق لرلو؟ او پخپله به ئې په احادیثو څومره عمل کولو، نن به په دې باره کښې مونږه یو څو مدني ګلونه د اوریدلو او په هغې د ځان پوهه کولو سعادت حاصلوو.

## د عِلمِ حدیث په باره کښې یو وضاحت

په اصل موضوع باندې د خبرو کولو نه مخکښې دا خبره په خپل زړه کښې کښینوئ چې ❁ په دیني علومو کښې د قرآنِ کریم نه پس د ټولو نه لوئ، اَهَم او د ټولو نه افضل

عِلم، عِلمِ حدیث دے، خوك چې عالِمِ دین دے، مُفتـي دے، خوك چې د اسلام مُتَعَلِّق د هر قِسمه تحقیق كول غواړي، د هغه د پاره لازم او ضروري دي چې هغه د قرآنِ كریم هم علم لري او د یو ماهِر عاشِقِ رسول عالِمِ دِین نه ئې باقاعده د حدیثِ پاك عِلم هُم حاصل كړے وي، ❀ الله پاك زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دا شان عطا كړے دے چې د هغوئي د مباركې ژبې نه وتونكے یو یو حَرف، یو یو لفظ، یوه یوه جمله د عِلم و حِكمَت جوړ سمندر دے، د خوږ نبـي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ژبه مباركه هغه ژبه ده چې د هغې نه څه ادا كیږي، هغه صرف حق، حق او حق دي، د حق نه علاوه د هغه ژبې مباركې نه هیڅ هم نه ادا كیږي. الله پاك په قرآنِ كریم كښې ارشاد فرمائي:

وَمَا یَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى ؕ﴿۳﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْیٌ یُّوْحٰى ۙ﴿۴﴾
(پاره27،سورۃالنجم:3تا4)

[مَفهوم] ترجمۂ کنزُالایمان: او یوه خبره هُم د خپل خواهش نه نه كوي. هغه وحي وي كومه چې هغوئي ته كیږي.

د دې آیتِ كریمه مفهوم اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه داسې بیان كړے دے:

وہ دہن جس کی ہر بات وحیِٔ خُدا | چشمۂ عِلم و حکمت پہ لاکھوں سلام [1]

**وضاحت:** یعني هغه پاكه او مباركه خُله چې د هغې نه وتونكې هره خبره وحي وي، د علم و حِكمَت په هغه چینه باندې ډیر ډیر سلامونه.

❀ عاشقانِ رسول عُلمائے كرام عِلمِ حدیث زده كولو كښې د عشق یو لحاظ دا هم ساتي چې حدیثِ پاك زمونږ د خوږ آقاء سرورِ انبیاء صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ژبې مباركې نه وتلي الفاظ دي، دا هغه الفاظ دي چې په دې كښې د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خُلې

[1] ...حدائقِ بخشش، صفحه:302۔

مبارکې خوشبو ده، دا هغه الفاظ دي په کومو کښې چې د مصطفٰی جانِ رحمَت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ژبې مبارکې خوږ والے موجود دے، دا هغه الفاظ دي کوم چې مونږ ته د **سَیِّدُ الْمُرْسَلِین، خَاتَمُ النَّبِیِّیْن** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خبرو انداز رایادوي.

لِهٰذا عاشقانِ رسول عُلمائے کرامو به خپلې سینے د یادِ مصطفٰی نه آبادولو د پاره او عشقِ رسول زیاتولو د پاره په شوق و محبت سره عِلمِ حدیث هم زده کولو او دا [علمِ حدیث] به ئې مخکښې هم خوررولو.

په دې تَعَلُّق سره چې کله مونږه د اعلٰی حضرت اِمامِ اهلِسُنَّت، شاه احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ شخصیت ته اوګورو نو اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ماهِر ترین مُفتي هم دے، بےمثاله عالِمِ دِین هم دے او عاشِقِ رسول بلکه د عاشقانِ رسول اِمام هم دے، نو د اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ **اعلٰی حضرت** کیدل د دې خبرې دلیل دے چې هغوئي په عِلمِ حدیث کښې ډیر کمال مهارت لرلو. چې کله مونږه د اعلٰی حضرت سِیرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ لوَلو نو اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ واقعي د حدیث ماهِر عالِم ښکاري.

## د اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ سِیرَت او د عِلمِ حدیث درې اړخه

که مونږه په دې موضوع باندې غور اوکړو چې اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په عِلمِ حدیث کښې څنګه مهارت لرلو نو بنیادي طور د اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د سِیرَت درې اړخه دي:

**(1)** په علمي او فَنّي اعتِبار سره اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ته په عِلمِ حدیث کښې څومره مهارت حاصل وو؟ یعنې د حدیثِ پاك چې کومې درجے دي، د حدیثِ پاك کوم مختلف قِسمونه چې عُلمائے کرامو مقرر کړي دي، په هغه درجو او قِسمونو باندې ځان پوهه کولو او د حدیث په معنٰی او مفهوم پوهیدلو او د حدیثِ پاك نه د علم خبرې اخذ کولو کښې اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ته څومره مهارت حاصل وو؟ **(2)** په احادیثو لوستلو،

یادولو، یاد ساتلو او نورو ته رَسَوَلو کښې د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه انداز څنګه وو؟ **(3)** او دریم صورت دا چې د حضورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په حدیثونو باندې د عمل کولو د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه انداز څنګه وو؟

راځئ چې دا درې واړه صورته په نظر کښې ساتلو سره د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سِیرتِ پاک واورو:

## (1) په عِلمِ حدیث کښې علمي او فَنّي مهارت

هغه عُلمائے کرام کومو چې باقاعده عِلمِ حدیث زده کړو، په احادیثو باندې ئې ځان پوهه کړو او په دې کښې ئې مهارت حاصل کړو، د هغه عُلمائے کرامو مختلفې طبقے او درجے دي، چا ته **مُحَدِّث** وائي، چا ته **حافِظُ الحَدِیث** وائي، چا ته **حُجَّت** وائي، څوك **شَیخُ الحدیث** وي. دغه شان د حدیثِ پاك د عُلمائے کرامو یوه درجه ده: **اَمِیْرُ الْمُؤْمِنِیْن فِی الْحَدِیث**. د عِلمِ حدیث هغه عالِم چې د خپلې زمانے ټولو عُلمائے کرامو کښې د ټولو نه زیات ماهِر وي هغه ته **اَمِیْرُ الْمُؤْمِنِیْن فِی الْحَدِیث** وئیل کیږي. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! څنګه چې اعلٰی حضرت اِمامِ اهلِسُنَّت، شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپله زمانه کښې د ټولو نه غټ مفتي، مُفَسِّر او د اوچتې درجے صوفي دے، د اعلٰی درجے سائنس دان او زبردست ریاضي دان دے، دغه شان د علمِ حدیث په مُعامَله کښې اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **اَمِیْرُ الْمُؤْمِنِیْن فِی الْحَدِیث** هُم دے.

## د مُحَدِّث وَصِي اَحمَد سُورتي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمان

د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دور مُبارك یو لوئې مُحَدِّث عَلَّامه **مُحَدِّث وَصِي اَحمد سُورتي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دے. دا د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دوست هم وو، وَصِي اَحمَد سُورتي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه 40 کالو پورې د حدیثِ پاك خدمت کړے دے او د حدیثِ پاك د

ټولو نه مُعتبر کتاب **بُخاري شريف** هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته زباني ياد وو، دومره اوچت مُحَدِّث وو.

د مُحَدِّث وَصِي اَحمَد سُورتي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو شاګرد **سَيِّد محمد اشرفي مياں جيلاني** دے. دا پخپله هُم وروسته ډير لوئي مُحَدِّث جوړ شو او **مُحَدِّث اعظَم هند** ورته وئيل کيدلو. يو ځل مُحَدِّث اعظَم هند سَيِّد محمد اشرفي مياں رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل اُستاذِ مُحتَرم مُحَدِّث وَصِي اَحمَد سُورتي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر وو، د مُحَدِّث وَصِي اَحمَد سُورتي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه ئې سوال اوکړو چې: جناب! تاسو د اعلٰی حضرت اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تذکِره ډيره زياته کوئ، د دې څه وجه ده؟ د شاګرد دا سُوال ئې چې واوريدلو نو د مُحَدِّث وَصِي اَحمَد سُورتي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په سترګو کښې اوښکې راغلې او په ډير عقيدت سره ئې اوفرمائيل: **اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! زه او زما خاندان د اوَّل نه مسلمانان يُو خو چې د کله نه ما د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه صُحبت اختيار کړے دے نو ما ته د اِيمان خوږ والے نصيب شوے دے، بس د چا په وجه چې ما ته د اِيمان خوږ والے نصيب شوے دے، د هغوئي د يادولو په وجه خپل زړه ته سکون ورکووم.

**سُبْحٰنَ الله**! د مُحَدِّث وَصِي اَحمَد سُورتي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره عقيدت اوګورئ او د هغوئي په الفاظو لږ غور اوکړئ! د وخت يو اوچتې مرتبے والا عالِم دين او مُحَدِّث، چا چې 40 کالو پورې د علمِ حديث خدمت کړے دے، په زرګاؤ احاديث ورته زباني ياد دي، هغوئي د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مُتَعَلِّق فرمائي: **ما ته د اِيمان خوږ والے د اعلٰی حضرت** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **د صُحبَت په وجه نصيب شوے دے، په دې وجه زه د اعلٰی حضرت** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **د تذکِرے کولو په ذريعه خپل زړه ته سکون ورکووم.**

مُحَدِّث اعظَم هند سَيِّد محمد اشرفي مياں رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د اُستاذِ مُحتَرم مُحَدِّث وَصِي اَحمَد سُورتي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اِيمان نه ډك دا جواب مې چې واوريدلو نو عرض مې

اوکړو: جناب! آیا اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په عِلمِ حدیث کښې ستاسو برابر دے؟ مُحَدِّث وَصِـي اَحمَد سُورتـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائیل: هیڅ کله نه. بیا ئې اوفرمائیل: عزیزم! تاسو په څه پوهه شوئ چې زما د **هیڅ کله** څه مطلب دے؟ واورئ! اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن فِي الْحَدِيث** دے. که زه په کلونو د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه علمِ حدیث حاصل کړم، د هغوئي شاګردي اختیار کړم نو بیا هم زه د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د قدمونو برابري ته نه شم رسیدے.[1]

تو محدث تو محقق تو مجدد لا جواب | اہلسنت کی اماں اے کُشتۂِ عِشقِ رسول

**وضاحت**: اے اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه! اے د اوچتې مرتبے عاشقِ رسول! تاسو مُحَدِّث هم ئې، مُحَقِّق هم ئې، تاسو لاجوابه مُجَدِّد هم ئې، او ستاسو په در کښې اهلِسُنَّت ته پناه نصیب شوې ده.

## د ماهِرینِ علمِ حدیث د پاره د سَنَد اِجازت

د عِلمِ حدیث یوه قاعده ده چې **مُحَدِّثِین** کرام خپلو شاګردانو ته یا چا ته چې احادیث بیان کړي، هغوئي ته د سَنَدِ حدیث اجازت ورکوي او دا اُصول دے چې چا ته دا اِجازت حاصل نه وي، هغه هاغه حدیثِ پاك د خپل سند نه نه شي بیانولے. دا د یو اُصول خبره ده او د دې اُصول تفصیلات دي، چې په دې صرف عُلمائے کرام پوهیږي.

د دویم حج په موقع باندې چې اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کله مکے مکرمے ته حاضر شو نو تاسو ته معلومه ده چې د حج په موقع د دُنیا د ګوټ ګوټ نه مسلمانان راځي، د عُلمائے کرامو هُم یوه لویه اجتماع وي. چې کله اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه حج

---

[1] ...ماہنامہ المیزان بمبئی، صفحہ:247۔

له تشریف یوړلو، هغه وخت هم د مصر نه، شام نه او نورو ډیرو ملکونو نه عُلمائے کرام د حج د پاره راغلي وو.

**الله** پاك اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ته شُهرت عطا کړے وو، چې کله هغه عُلمائے کرامو ته پته اولګیده چې اعلٰـی حضرت اِمامِ اهلِسُنَّت، شاه احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه تشریف راوړے دے نو هغه علمائے کرام په ډلو ډلو د اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په خدمت کښې حاضر شو، په هغې کښې ډیر علمائے کرام داسې وو چې هغوئي د اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نه بعض مشکل مسائل زده کړل، چا ترینه بعضې علوم حاصل کړل او د هغه وخت د لویو لویو مُحَدِّثینو یو شمیر وو چې باقاعده ئې اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نه د حدیثِ پاك سَنَدونه هم حاصل کړل.

**اے عاشقانِ رَسُول!** اندازه اولګوئ! د عربو لوئ لوئ علماء او مُحَدِّثین د اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نه د حدیثِ پاك اجازتونه حاصلوي، ګویا دا لوئ لوئ مُحَدِّثین دا اعلان کوي چې په نن دور کښې هغه عظیمه هستي چا ته چې د **اَمِیۡرُ الۡمُؤۡمِنِیۡن فِي الۡحَدِیۡث** لقب ورکول کیدے شي، هغه اعلٰـی حضرت، اِمام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه دے.

حَرَم والوں نے مانا تم کو اپنا قبلہ وکعبہ | جو قبلہ اہلِ قبلہ کا ہے وہ قبلہ نُما تم ہو

**وضاحت:** ''قبله نُما'' یعنې د قبلے د طرف معلومولو آله. دې ته کمپاس هُم وائي. مطلب دا دے چې اے اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه! د مکے او مدینے عاشقانِ رسول عُلماء، لوئ لوئ مُفتیَانِ کرام هم تاسو خپله قبله و کعبه مني، تاسو هغه انسان ئې چې ستاسو په برکت مسلمانان خپله قبله دُرُسته کوي یعنې په خپلو عقائدو، اعمالو کښې ستاسو نه رهنمائي اخلي.

## په پیلي بِهیت کښې درې ګینتهے بیان

په 1303 هجرئ کښې مُحَدِّث وَصِـي اَحمَد سُورتـي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په پیلي بِهیت کښې د

**مَدْرَسَةُ الحَدِيْث** بنياد كيښودلو، په دې موقع باندې **مُحَدِّث** وَصِــي اَحمَد سُورتــي رَحْمَةُ الله عَلَيْه د ملك لويو لويو عُلمائے كرامو ته دعوت وركړو، عَظِيمُ الشَّانه اجتماع جوړه كړے شوه، اعلٰـى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم ناست وو، **مُحَدِّث** وَصِــي اَحمَد سُورتــي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اعلٰـى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت كښې د بيان كولو درخواست پيش كړو، اعلٰـى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مَنچ [يعني استيج] ته تشريف راوړو او د ملك لوئ لوئ عُلمائے كرامو، **مُحَدِّثِينو**، مُفَكِّرِينو په موجودګئ كښې اعلٰـى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د علمِ حديث په موضوع باندې درې ګينټے بيان اوفرمائيلو، اعلٰـى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د علمِ حديث په موضوع زبردست علمـى نُكات بيان كړل او د دې په اوريدلو په اجتماع كښې موجود لوئ لوئ علمائے كرام حيران شول، چې كله اعلٰـى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيان ختم كړو نو د **مُحَدِّث** سَهارنپوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه څوئ پاڅيدلو او ورمخكښې شو د اعلٰـى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لاس مبارك ئې ښكل كړل. ګويا د **مُحَدِّث** سَهارنپوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شهزاده د خپل اندازِ حال نه دا اعلان اوكړو چې:

عِلمِ خَبر کی شاہی تم کو رضا مُسَلّم | جس سمت آگئے ہو سِکّے بٹھا دیئے ہیں

**وضاحت**: علمِ خبر يعني علمِ حديث. دا د داغ دهلوي شعر دے. داغ دِهلوي **مُلکِ سُخَن کی شاہی** ليكلے وو. د موقع په مناسبَت سره په دې كښې بدلون شوے دے.

يعني اے امام احمد رضا! تاسو په علمِ حديث كښې دومره ډير ماهر ئې چې په كومه موضوع بحث كول شروع كړئ، خپل پوره پوره مهارت پكښې داسې ښكاره كوئ چې په زمانه كښې بل څوک په هغه فن كښې داسې مهارت نه شي ښودلے.

# (2) اعلٰــی حضرت او د حدیثِ پاك مطالَعه

اے عاشقانِ رسول! دا خو د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه علمي او فني اعتبار سره په علمِ حدیث کښې مهارت وو چې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه علمي او فني اعتبار سره په علمِ حدیث کښې **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن فِي الْحَدِيْث** دے او دا خطاب اعلٰــی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته د هغه دور ماهِرو مُحَدِّثِينو ورکړے وو. اوس راشئ! دا اوګورو! چې په احادیثو لوستلو، یادولو او نورو ته رَسَوَلو کښې د اعلٰــی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه انداز څه وو؟

## اعلٰــی حضرت د حدیثِ پاك څومره کتابونه لوستلي دي؟

یو ځل د اعلٰــی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه تپوس اوکړے شو چې: تاسو د احادیثِ پاك کوم کوم کتابونه لوستلي دي؟ په دې باندې اعلٰــی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوَّل خو د علمِ حدیث د یو څو کتابونو نومونه بیان کړل مثلاً **بُخَارِی**، **مُسْلِم**، **اَبُوْدَاوٗد**، **تِرْمَذِی**، **نِسَائِی**، **اِبْنِ مَاجَه**، داسې د 31 کتابونو نومونه ئې اوښودل، بیا ئې اوفرمائیل: (دا کتابونه او د دې سره) د علمِ حدیث د 50 نه زیات کتابونه زما په درس و تدریس او مطالعه کښې راغلي دي.[1]

**سُبْحٰنَ الله!** د 50 نه زیات کتابونه د اعلٰــی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په درس و تدریس او مطالعه کښې وو، په ظاهره دا محسوسیږي چې صرف 50 کتابونه...! که د دې کتابونو په تفصیل کښې لاړ شو نو دا 50 کتابونه په زرګاؤ صفحو او په لکونو احادیثو مشتمل دي. په دې کښې صرف ❀ د **بُخاري شریف** صفحے 1823 دي په دې کښې احادیث 7563 دي ❀ د مُسلِم شریف صفحے 1157 دي په دې کښې احادیث 3033 دي ❀ د ابو داؤد صفحے 820 دي او احادیث پکښې 5273 دي ❀ د تِرمِذی شریف

[1] ...اظهار الحق الجلی، صفحه:40۔

صفحې 884 دي او احادیث پکښې 3958 دي ❁ د نَسَائي شریف صفحې 905 دي او احادیث پکښې 5769 دي ❁ د اِبنِ ماجه صفحې 705 دي او احادیث پکښې 4341 دي.

دغسې د دې 50 کتابونو نه صرف د 20 کتابونو جلدونه، د هغې د صفحو او احادیثو شمیر چې اوکتلې شو نو دا صرف د شلو کتابونو 49 جلدونه جوړ شو، د دې د صفحو شمیر 29 هزار 903 او په دې کښې ټول احادیث 1 لاك 34 هزار 811 دي.

دا خو صرف د 20 کتابونو تفصیل دے او د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په مطالعه کښې د 50 نه زیات د احادیثو کتابونه وو. که د دې ټولو کتابونو په تفصیل کښې لاړ شو نو دا په زرګاؤ صفحې او په لکونو احادیث جوړیږي کوم چې د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په درس و تدریس او مطالعه کښې شامِل وو.

بیا دلته دا خبره په ذِهن کښې اوساتئ چې اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د یو سُوال جواب ورکولو، لِهٰذا اِجمالاً ئې اوفرمائیل: د 50 نه زیات کتابونه. د دې زیات نه څه مراد دے؟ 55 کتابونه، 60 کتابونه که 70 کتابونه؟ د 50 نه زیات څومره کتابونه دي؟ د دې په باره کښې چې تحقیق اوشو، د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بعضې عقیدتمندو اته کاله محنت اوکړو، د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکلي شوي 350 کتابونه ئې جمع کړل، هغه ئې اولوستل، په دغه 350 کتابونو کښې چې اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه څومره احادیث ذِکر کړي وو، هغه احادیث ئې چې یو ځائے راجمع کړل نو دا ټول لس زره احادیث جمع شو، بیا د احادیثو په اصل کتابونو کښې دا احادیث اولټولے شو نو معلومه شوه چې اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دې 350 کتابونو کښې چې کوم احادیث ذِکر کړي وو هغه د حدیثِ پاك د 400 کتابونو نه اخستے شوي وو یعنې د دې تحقیق نه معلومه شوه چې د حدیثِ پاك 400 کتابونه دي کوم چې به د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په مطالعه کښې وو،

اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه به دا کتل، د دې نه به ئې احاديث لوستل او د تحرير [يعنې فتوٰی او نور کتابونه ليکلو] په دوران کښې به ئې ترينه نقل کول.

بيا دا هم ياد ساتئ چې دا کوم تحقيق شوے دے، دا صرف د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د 350 کتابونو شوے دے، او د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه ليکلي شوي کتابونه د 1000 نه زيات دي، که د ټولو کتابونو نه احاديث جمع کړے شي نو اندازه اولګوئ چې د حديثِ پاك ځومره لويه ذخيره به جمع شي.

دا د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د حديثِ پاك سره شوق و مَحَبَّت وو، بيا د دې سره سره کمال اوګورئ! عِلمِ حديث صرف يو علم دے، اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه صرف د **عِلمِ حديث** ماهر نه وو بلکه د 100 نه زياتو علومو کښې ئې مهارت لرلو يعنې دا دومره مطالعه صرف د يو علم په باره کښې وه نو د سلو نه زياتو علومو د پاره به اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د هر علم مُتَعَلِّق ځومره مطالعه کړې وي؟ ځومره کتابونه به ئې لوستلي وي؟ بيا د دې سره سره د ليکلو کار هم وو، فتوے به ئې هم ليکلې، اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه پيرِ کامِل هم دے، مريدان به هم حاضريدل، د هغوئي تربيت به ئې هم کولو، اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه اُستاذ هم وو، په مدرسه کښې به ئې د سبقونو درس هم ورکولو، د اُمَّت مسائل به ئې هم حل کول، د دې ټولو مصروفياتو باوُجود اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه ځومره مطالعه کوله؟ دې ته چې سوچ اوکړے شي نو عقل ورته حيرانيږي۔

## اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه او تبليغِ حديث

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دا وه د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د حديثِ پاك سره مينه او محبت. بيشکه احاديث لوستل، په دې باندې ځان پوهه کول د لوئ کمال خبره ده، بيا احاديث ياد ساتل، نورو ته رَسَوَل د دې نه غټ کمال دے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه به احاديث لوستل، ياد به ئې ساتل او نورو ته به ئې رسَوَل. د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ

اللّٰہِ عَلَیْه عادت مبارکه وو چې په خبرو کولو کښې به ئې احادیث بیانول، کومه خبره به ئې چې کوله هغه به ئې د قرآني آیاتو یا احادیثو نه ثابتوله. د یو سُوال په جواب کښې به ئې ډیر احادیث ذِکر کول، د هغې احادیثو مَعَاني به ئې بیانولې، د احادیثو شرح به ئې بیانوله.

❁ د اعلٰـی حضرت رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْه نه سُوال اوشو چې: سجدهٔ تعظیمي (یعنې یو بنده ته صرف د هغه د تعظیم په نِیَّت سجده کول) جائز دي که نه؟ اعلٰـی حضرت رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْه د قرآني آیتونو او 40 احادیثو په رنړا کښې ثابته کړه چې غیرِ خدا ته د تعظیم د پاره سجده کول په وړومبنو شریعتونو کښې جائز وو، زمونږ په شریعت کښې حرام دي. ❁ د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْه په خِدمت کښې سُوال اوشو چې: خلق وائي زمونږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته دافِعُ الْبَلا (یعنې مصیبتونه لرې کوونکے) وئیل شِرك دے؟ اعلٰـی حضرت رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْه د دې په جواب کښې 300 احادیث ذِکر کړل او واضحه ئې کړه چې زمونږ خوږ نبـي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **اللّٰه** پاك په عطا غم او مصیبتونه لرې کوونکے دے. د اعلٰـی حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْه په خدمت کښې سُوال اوشو چې: که نبـي کریم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو انبیائے کرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام نه افضل دے نو په دې باندې د قرآن و حدیث نه دلیل راوړئ؟ اعلٰـی حضرت رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْه د دې سُوال جواب اولیکلو او د 100 احادیثو نه ئې ثابت کړه چې د **اللّٰه** پاك په فضل سره زمونږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو انبیاؤ عَلَیْہِمُ السَّلَام سردار دے.

❁ فرښتے څنګه پیدا کیږي؟ په دې موضوع باندې اعلٰـی حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْه 24 احادیث ذِکر کړل. ❁ زمونږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په ورځ د قیامت شفاعت کوي، په دې موضوع باندې اعلٰـی حضرت رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْه 40 احادیث ذِکر کړل، ❁ د ګیرۍ په ضرورت او اَهَمِّیَّت باندې ئې 56 احادیث بیان کړل، ❁ د مور و پلار په حُقوقو باندې ئې 91 احادیث ذِکر کړل، دغه شان په نورو بیشمیره موضوعاتو باندې اعلٰـی حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْه په سوونو احادیث ذِکر کړي دي، د دې احادیثو نه ئې مسائل اَخَذ

کړي دي، د دې احادیثو معاني ئې بیان کړي دي، بیا دا نه چې اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَیۡه صرف احادیث بیان کړي دي، بلکه چې کله ئې هم حدیثِ پاك نقل کړے دے، د هغه حدیثِ پاك حواله ئې هم لیکلې ده، چې کله د اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه د کتابونو نه احادیث جمع کړے شو نو معلومه شوه چې اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه په 350 کتابونو کښې اندازًا لس زره احادیث نقل کړي دي.[1]

## (3) اعلٰـی حضرت او په احادیثو باندې د عمل کولو انداز

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** غور اوکړئ! اعلٰـی حضرت، اِمامِ اهلسُنَّت رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَیۡه په علمِ حدیث کښې څنګه مهارت لرلو، د احادیثو لوستلو، یادلو، یاد ساتلو او نورو ته د رَسَوَلو ئې څومره شوق لرلو. **اللّٰه** پاك دِ مونږ ته هم د اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه فیضان رانصیب کړي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**اوس واورئ!** په احادیثو باندې عمل کولو کښې د اعلٰی حضرت رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَیۡه انداز څنګه وو؟

## په باران کښې طوافِ کعبه

اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَیۡه چې کله په دویم ځل د حج د پاره مکے مکرمے ته حاضر شو نو هلته سخت بیمار شو، د ډیرو ورځو پورې ئې طبیعت تیك نه شو، د مُحَرَّمُ الحَرام په آخرو ورځو کښې ئې طبیعت لږ تیك شو، غُسل ئې اوکړو، چې د غُسل خانے نه ئې بهر تشریف راوړو نو اوئې لیدل چې: په اسمان کښې وریځې دي، هغوئي زر زر حرم شریف ته لاړلو، مَسجِدُ الحَرام شریف ته رسیدلو رسیدلو کښې باران شروع شو، اعلٰـی حضرت

1 ...فیضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:485تا487، ملتقطاً۔

رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما ته حديثِ پاك را ياد شو چې ''**څوك په باران كښې طواف كوي، هغه د الله پاك په رحمت كښې لامبو وهي.**''

بس د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا فرمان مبارك چې ورياد شو نو د اعلٰـى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زړه خوشحاله شو، په حديثِ پاك كښې بيان شوي فضيلت حاصلولو د پاره اعلٰـى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زر د حَجَرِ اَسوَد خوا ته حاضر شو، حجرِ اسوَد ئې ښكل كړو او په باران كښې ئې طواف شروع كړو.

اَللّٰهُ اَكْبَرْ! تَصَوُّر اوكړئ! باران وريږي، د وخت اِمام، رښتينے عاشِقِ رسول، اعلٰـى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه [د طبيعت د ناسازئ په حالت كښې] په ځومره مينه او شوق سره د خانهٔ كعبے طواف كوي....! اعلٰـى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د طواف ووه چكرې پوره كړې او د خپل اوسيدلو ځائے ته ئې تشريف يوړلو.

ولے چې د اعلٰـى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه طبيعت د مخكښې نه ناسازه وو، د تبې نه ئې آرام راغلے وو خو چې په حديثِ پاك باندې د عمل كولو د پاره ئې په باران كښې طواف اوكړو، نو بيا پرې تبه راغله. د مكے مكرمے عاشقانِ رسول علمائے كرام د اعلٰـى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير عقيدت مند وو، چې كله اعلٰـى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه باندې بيا تبه راغله نو هغه عُلماء ډير غمژن شو، يو عاشِقِ رسول عالِمِ دين په ډير درد سره اووئيل: په يو ضعيف حديثِ پاك باندې د عمل كولو د پاره تاسو بے احتياطي اوكړه؟

ضعيف حديث د مُحَدِّثِينو يوه اِصطِلاح ده، ضعيف حديث هم د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے خو د دې روايت كوونكي راويانو كښې د يو څو شرطونو كمے وي. خير! هغه عالِم صاحب اوفرمائيل: په باران كښې د طواف د فضيلت حديث ضعيف دے او تاسو په دې ضعيف حديث باندې د عمل كولو د پاره د خپل طبيعت

خیال اونه ساتلو؟ اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې د دې په جواب کښې څه ارشاد اوفرمائیل: هغه د زړه په غوږونو واورئ! اوئې فرمائیل: حدیث ضعیف دے خو اَلْحَمْدُلِلّٰه! اُمّید قوي (یعني پوخ) دے. [1]

**مطلب** دا چې که حدیث ضعیف دے نو د دې دا مطلب دے چې د حدیث په راوي کښې شرائط پوره نه دي مګر دا دے خو فرمانِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، او ما په فرمانِ مُصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې عمل اوکړو، زما د **الله** پاك د رحمت نه پوخ اُمّید دے چې **الله** پاك به ما ته زما د نِیَّت اجر ضرور را کوي.

## په مُصِیبَت کښې د اخته کس په لیدلو د لوستلو دُعا

د 1300 هجرئ خبره ده، د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عمر مبارك هغه وخت 27 کاله او یو څو میاشتې وو، د ګرمئ موسم وو، اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د یو علمي تحقیق د پاره په نرو الفاظو کښې لیکلې شوې کتابونه مسلسل کتل، د دې مسلسل محنت په وجه د هغوئې په سترګو اثر اوشو، یوه ورځ اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په عِلمـي کار کښې مصروف وو، د غرمے په وخت کښې ورته سخته ګرمي محسوسه شوه نو غُسل ئې اوکړو، څنګه چې ئې اوبه په سر راواچولې نو داسې محسوس شوه لکه د سر نه چې ئې څه څیز اولویدلو او سترګو ته راغے. وروسته یو ماهر ډاکټر ته ئې سترګې اوښودلې، ډاکټر صاحب په غور مُعائنه اوکړه، او اوئې وئیل چې: په کثرت سره د کتابونو کتلو په وجه [مو په سترګو کښې] خُشکي راغلې ده، د 15 ورځو پورې کتاب مه ګورئ. اوس د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په شان شخصیت، د ټولې دُنیا نه مسلمانان د دِیني مسائلو د حل تپوسونه کوي، فتوے

1 ...ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:209، خلاصةً۔

غوارې، ډاکټر صاحب ورته د 15 ورځو پورې د کتاب نه لوستلو وائي، اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خو د 15منټو پورې هم کتاب نه شي پرېښودے، خير! يو حکيم صاحب ئې مُعائنه اوکړه، هغوئي اووئيل: د نُزُولِ آب (يعني اوبه راکوزيدلو) نښې دي، خدانخواسته 20 کاله پس به [مو په سترګو کښې] اوبه راځي (يعني د موتيا د مرض په وجه به مو د سترګو نُور ختم شي).

په ظاهره دا سخته د پرېشانئ خبره وه، کتاب ئې پرېښودے نه شو، د ليکلو کار کول هم وو، ګڼې د اُمَّت دِيني راهنمائي به څوك اوکړي؟ او خدائے دِ نکړي که د بينائې مسئله جوړه شوه نو دا به هم سخت تکليف وي.

اَللّٰهُ اَکْبَرْ! په مشکل وخت کښې د يو رښتيني عاشِقِ رسول تَـوَجُّه کوم طرف ته ځي؟ سُبْحٰنَ الله! په دُنيا کښې صرف يوه د رحمَت لمَن ده چرته چې غُلامان پناه اخلي. او هغه د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لمَن مبارکه ده.

اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په لمَن مبارکه کښې پناه واخستله، يو حديثِ پاك ئې په ذِهن کښې راغلو چې که څوك په کوم مصيبت کښې اخته کس اووينې او دا دُعا اووائي:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ عَافَانِىْ مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهٖ وَفَضَّلَنِىْ عَلٰى كَثِيْرٍ مِّمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيْلًا

نو د دې دُعا لوستونکے به د هغه مُصيبت نه محفوظه اوسي، اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د موتيا [د سترګې د ګُل] د بيمارئ والا يو کس اوليدلو نو دا دُعا ئې اولوستله او مُطمَئِن شو.

د دې واقعے نه 16 کاله پس يو ماهر ډاکټر ته د دې خبرې ذِکر اوشو، هغه هم د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سترګو مُعائنه اوکړه او په ډېر اعتماد سره ئې اووئيل: څلور کاله پس به

واقعي ستاسو په سترګو کښې اوبه راځي [يعني ګُل په پکښې کيږي]. خو قُربان شم! اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل چې: زما د خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ارشاد باندې کمزورے اعتِماد نه دے چې د ډاکټرانو د وينا په وجه مَعاذَ الله زما يقين کښې کمے راشي. 20 کاله خو څه اوس د 30 کالو نه زيات وخت تير شو، نه ما د کتاب په لوستلو کښې کمے کړے دے، او نه مې په سترګو کښې څه تکليف راغلے دے. [1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليده! اعلٰـی حضرت اِمامِ اهلِسُنَّت، شاه احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د خپل آقا، مکي مدني مصطفٰی په فرامينو باندې څومره پوخ يقين لرلو. **الله** پاك دِ مونږ ته هم د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په برکت پوخ يقين رانصيب کړي.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د سيرتِ رضا نه حاصل شوي دوه مدني ګلونه

**اے عاشقانِ رسول!** مونږه د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سيرت نه بعضې حِصَّے د اوريدلو سعادت حاصل کړو، د نن په بيان کښې مونږ ته خاص دوه مدني ګلونه زده کول نصيب شو:

(1) د احاديثو لوستلو، يادولو او په هغې د ځان پوهه کولو شوق.

(2) په فرامينِ مُصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې پوخ يقين ساتل.

## په زړه کښې د احاديثو لوستلو شوق پيدا کړئ!

لږ غور اوکړئ! حديثِ پاك څومره قدر لري؟ زمونږ هغه خوږ آقا، مکي مدَني مصطفٰی

---

1 ...ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:70تا71، خلاصةً۔

صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د چا چې مونږه کلمه لوستلې ده، د چا نه چې مونږه د شفاعت اُمِّيد لرو، د چا په برکت چې دُنيا جوړه شوې ده، د چا په برکت چې مونږه دُنيا ته راغلي يُو، د چا په برکت چې مونږ ته قسما قسم نعمتونه حاصل دي، زمونږه هغه خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کوم چې د **اللّٰه** پاك نه پس د ټولو نه بُزُرګه هستي ده، هغه آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چا ته چې د ټولو نه زيات علم ورکړے شوے دے، هغه آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې په مخلوق کښې د ټولو نه زيات عقلمند دے، د هغه خوږ آقا، آخري نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوږو خوږو اقوالو ته **حديث** وائي، (خو! کله د صحابهٔ کرامو او تابعينو اقوالو ته هم **حديث** وائي) اوس لږ غور اوکړئ! مونږه مسلمانان يُو، مونږه د آخري نبـي، رسُولِ هاشَمي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کلمه لولو، آيا په مونږه حق نه جوړيږي چې مونږه د حُضُورِ اقدس صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرامين اولولو؟ په هغې باندې ځان پوهه کړو، او عمل پرې اوکړو. يقيناً په مونږه حق جوړيږي. احاديث زمونږ د خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارکې ژبې نه وتلي الفاظ دي، د احاديثو يو يو لفظ د علم و حکمت سمُندر دے، په دې مبارکو الفاظو کښې د قيامته پورې راتلونکو د پاره رنړا ده، نُور دے، هِدايت دے،

مُفسّرِ قرآن، حضرت مُفتـی احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: په اسلام کښې د کَلامُ الله (يعنې قرآنِ کريم) نه پس د کَلامِ رَسُول (يعنې حديثِ پاك) درجه ده. ګويا قرآنِ کريم سَمُندر دے، حديثِ پاك د دې سمندر جهاز دے، قرآنِ کريم روحاني خوراك دے، حديثِ پاك د رحمت اوبه دي. څنګه چې بغير د اوبو نه خوراك تياريدے نه شي، دغه شان د حديثِ پاك نه بغير په قرآنِ کريم باندې پوهيدل نه شي کيدے او نه پرې عمل کيدے شي. [1]

---

[1] ... مرآة المناجيح، جلد:1، صفحه:3۔

زمونږ خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلي دي: **تَرَكْتُ فِيْكُمْ اَمْرَيْن**، زه په تاسو کښې دوه څیزونه پرېږدم، **لَنْ تَضِلُّوْ مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا**، ترڅو پورې چې مو دا دواړه مضبوط نیولي وي، هیڅ کله به نه ګمراه کیږئ: **(1) كِتَابُ الله** (د **الله** پاك کتاب یعني قرآنِ کریم) **(2) وَ سُنَّةُ نَبِيِّهٖ** (او د **الله** پاك د نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت یعني حدیثِ پاك).[1] په یو حدیثِ پاك کښې ارشاد فرمائي: چا چې د دین مُتَعَلِّق 40 احادیث یاد کړل، **الله** پاك به په ورځ د قیامت هغه د عُلماؤ او فُقَهاؤ په صف کښې پاڅوي.[2]

## د یو حدیثِ پاك اوریدلو د پاره ئې پوره کال روژے اونیولې

افسوس! اوس د احادیثو لوستلو، اوریدلو شوق ډیر کم شوے دے. **ما شَآءَاللّٰه!** په پخوانو مسلمانانو کښې د احادیثو لوستلو، اوریدلو او احادیثو یادولو ډیر شوق وو، **اِمام جَلَالُ الدِّین سُیُوطِی شافِعِی** رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه نقل کوي، فرمائي: حضرت **اَبُوالْعَبَاس مُسْتَغْفِرِی** رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه یو ځل مصر ته لاړو او د هغه ځائے د مُحَدِّث حضرت **اَبُو حَامِد مِصْرِی** رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه په خدمت کښې حاضر شو، عرض ئې اوکړو: ما ته **حدِیثِ خالد بِن ولید** واوروئ. حضرت **اَبُو حَامِد مِصْرِی** رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه اوفرمائیل: اوَّل یو کال روژے اونیسه.

اَللّٰه! اَللّٰه! اندازه اولګوئ! حضرت **اَبُوالْعَبَاس مُسْتَغْفِرِی** رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه خپل کور پرېښودے وو، سفر ئې کړے وو، د هغه دَور سفر به د مشکلاتو نه ډك وو، هغه وخت ګاډي، جهازونه وغیره نه وو، د دومره مشکلاتو باوُجود هغوئي مصر ته اورسیدلو، ولے؟ د یو حدیثِ پاك اوریدلو د پاره. بیا چې کله د هغه ځائے د مُحَدِّث په خدمت کښې حاضر

[1] ... جامع بیانُ العلم و فَضْلُه، جلد:1، صفحه:606۔
[2] ... جامع بیانُ العلم و فَضْلُه، جلد:1، صفحه:195۔

شو، د حديثِ پاك اوريدلو درخواست ئې ورته پيش کړو نو هغوئي ورته د پوره کال روژو نيولو حکم اوکړو، خو هغوئي هيڅ بهَانے جوړې نکړې، ځان ئې خفه نه کړو چې زه د دومره لرې نه راغلے يم، کور ته به هم بيرته ځم، نور کارونه مې هُم دي وغيره وغيره، هيڅ بهَانه ئې اونکړه او د يو حديثِ پاك اوريدلو د پاره ئې پوره کال روژے اونيولې، بيا په خدمت کښې حاضر شو، نو حضرت **اَبُو حَامِد مِصْرِی** رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَيۡه ورته هغه حديثِ پاك واورولو.[1]

**اے عاشقانِ رسول!** مونږ له هم پکار دي چې مونږه هم احاديث اولولو، د اوريدلو سعادت ئې حاصل کړو، زده ئې کړو، ياد ئې کړو، ځان پرې پوهه کړو او کوشش اوکړو چې نورو ته ئې هم اورَسَوو. **خو ياد لرئ!** په حديثِ پاك باندې ځان دُرُست پوهه کول او د دې نه مسائل راويستل د ماهِر ترينو عُلمائے کرامو کار دے، مونږه به صرف عاشقانِ رسول علمائے کرامو پسے شا ته شاته ځو. نن صبا بعضې ناپوهه په خپل کم عقل سره د قرآني آيتونو او احاديثو وضاحتونه کوي، دا سخته د نقصان خبره ده. په حديثِ پاك کښې دي: **مَنْ يَّقُلْ عَلَيَّ مَا لَمْ اَقُلْ فَلْيَتَبَوَّءْ مَقْعَدَهٗ مِنَ النَّارِ** چا چې زما طرف ته داسې خبره منسوب کړه کومه چې ما نه وه کړې، هغه دِ خپل ځائے په دوزخ کښې جوړ کړي.[2]

## د احاديثو لوستلو او په هغې د ځان پوهه کولو آساني ذريعے

✿ **اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه!** دعوتِ اسلامي په ډيرو ښارونو کښې جامعاتُ المَدينه جوړې کړې دي، وخت اوباسئ! درسِ نِظامي يعنې عالِم کورس کښې داخله واخلئ! ✿ [که ستاسو

---

1 ...جامع الاحاديث، جلد:19، صفحه:405، حديث:14922، ملتقطاً۔

2 ...بخاري، کتابُ العلم، صفحه:102، حديث:109۔

کاروبارې مصروفيات يا نور داسې معاملات وي نو] د فيضان آن لائن اکيډمي په ذريعه آن لائن درسِ نظامي اوکړئ! ❀ د دعوتِ اسلامي علمـي او تحقيقي شعبه اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامک ریسرچ سنٹر) د حديثِ پاك ډير کتابونه په اردو کښې تيار کړي دي، ❀ دا حديثِ پاك د کوم د پاره چې حضرت اَبُوالْعَبَاس مُسْتَغْفِرِی رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه يو کال روژے نيولي وے، دا حديثِ پاك او د دې تفصيلـي وضاحت باندې مشتمله رساله مکتبةُ المَدينه ”اعرابی کے سوالات اور عربی آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کے جوابات“ په نوم جاري کړي ده، ❀ دغه شان د مکتبةُ المَدينه کتاب: فَیضانِ رِیاضُ الصّالِحِین دے په دې کښې 1896 احاديث دي، د دې احاديثو اسانه ترجمه او تشريح باندې کار روان دے، د دې شپږ جلدونه چاپ شوي دي. ❀ د مکتبةُ المَدينه يو کتاب: اَنْوَارُ الْحَدِيْث دے، ❀ دغه شان 40 فرامِينِ مُصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مختصره رساله ده، ❀ د شيخِ طريقَت،اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه يوه نوې رساله: فَيضَانِ اَهلِ بَيت په دې کال مُحَرَّمُ الحَرام کښې راغلي ده، په دې کښې د اهل بيتِ اطهار په شان کښې 40 احاديث جمع کړے شوي دي، ❀ دغه شان د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه يوه رساله: ہر صحابیِ نبی، جنّتی جنّتی ده، په دې کښې د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان د شان و عظمت 40 احاديث جمع کړے شوي دي. د دې نه علاوه د حديثِ پاك نور هم ډير کتابونه دي.

د دعوتِ اسلامي آئي. ټـي ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن د Islamic Ebook Library[اِسلامِك اِي بُک] په نوم جوړ کړے دے، په دې کښې د مکتبة المَدينه ټول کتابونه موجود دي، د دې ايپلي کيشن په ذريعه تاسو کتابونه لوستلے هم شئ او ډاؤنلوډ کولے ئې هم شئ. دا موبائل ايپلي کيشن انسټال کړئ، پخپله هُم ترينه فائده

واخلئ او نورو ته ئې هم ترغیب ورکړئ.

**غرض**: نن صبا د احادیثو لوستلو، او په دې د ځان پوهه کولو ډیرې ذریعے دي، که مونږه خپل ذِهن جوړ کړو نو ډیر اسباب پیدا کیږي. بس د شوق پیدا کیدو ضرورت دے. په حدیثِ پاك کښې دي، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: **الله** پاك دِ هغه کس تر و تازه اوساتي، چا چې زما حدیث واوریدلو، هغه ئې یاد کړو او نورو ته ئې اُورسَوَلو.[1]

حضرت زَکَرِیّا بِن عَدِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د حضرت عبدُ الله بِن مُبارك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د وفات نه پس ما هغوئي په خوب کښې اولیدلو، تپوس مې ترینه اوکړو: **مَافَعَلَ اللهُ بِكَ** یعنې **الله** پاك ستا سره څه مُعامَله اوفرمائیله؟ هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه جواب راکړو: د حدیثِ پاك د طلب د پاره د سفر په سبب **الله** پاك زه اوبخښلم.[2]

## په فرامینِ مصطفٰی باندې یقین ساتل د اِیمان ځان دے

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دویم مدني ګل کوم چې د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سِیرَت نه مونږه زده کړو هغه په فرامِینِ مصطفٰی باندې پوخ یقین ساتل دي.

دا خو زمونږ د اِیمان تقاضا ده بلکه اصل اِیمان هم دا دے، حکیمُ الأُمَّت حضرت مفتی احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د اِیمان حقیقت **الله و رسُول باندې اِعتِماد کول** دي. نور فرمائي: **رښتیا خبره دا ده چې د اِیمان ځان خو دا دے چې د نبي کریم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **په خبر** [یعنې حدیثِ پاك] **باندې د خپلو حَواسو** (یعنې سترګو، غوږونو،

---

1 …ابوداؤد، کتاب:العلم، باب:فضل نشر العلم، صفحه:580، حدیث:3660۔
2 …تاریخِ مدینه دمشق، جلد:32، صفحه:484۔

عقل وغیره) **نه زیات اعتِماد اوکړے شي،** که مونږه په خپلو سترګو وینو چې اوس ورځ ده او نبـي کريم اُوفرمائي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې اوس شپه ده نو زمونږه سترګې دروغژنې دي او نبـي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رښتینے دے. زمونږه سترګې ډیرې غلطئ کوي خو د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارَك کله هم غلط نه شي کیدے۔

د علمِ حدیثِ ډیر اوچت اِمام، اِمام نَوَوِی رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه یو ځل د دِمَشق یو لوئ مُحَدِّث صاحب په خدمت کښې حاضر شو او د هغوئي نه ئې احادیث زده کول شروع کړل، هغه مُحَدِّث به په خپل مخ باندې رومال اچولے وو او د احادیثو درس به ئې ورکولو، اِمام نَوَوِی رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ډیره موده د هغوئي نه علم حاصل کړو، یوه ورځ هغوئي د اِمام نَوَوِی رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په مخکښې د خپل مخ نه کپړا لرې کړه، څه وینې چې د هغوئي مخ د خر په شان دے. هغه مُحَدِّث صاحب اِمام نَوَوِی رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ته نصیحت کښې اُوفرمائیل: ما حدیثِ پاك لوستلے وو چې "**کوم کس د اِمام نه مخکښې سر اوچتوي، آیا د دې نه نه ویریږي چې اللّٰه پاك به د هغه سر د خر په شان کړي.**" [1] مُحَدِّث صاحب فرمائي: دا حدیث زما په عقل کښې رانغلو، ما قَصداً د اِمام نه سبقت اوکړو (یعنې په رکوع او سجدو کښې مې د اِمام نه مخکښې سر را اوچت کړو) نو زما مخ داسې شو څنګه چې ئې ته وینې.[2]

**اللّٰه** پاك دِ مونږ ته کامِل اِیمان رانصیب کړي، د احادیثو لوستلو، اوریدلو، زده کولو، او په دې د ځان پوهه کولو شوق دِ راعطا کړي او په حدیثِ پاك باندې د کامل یقین ستالو توفیق دِ هُم را عطا کړي. **اٰمِین بِجَاهِ النَّبِیِّ الۡاَمِیۡن** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1 …مسلم، کتاب:الصلاۃ، باب:النهی عن سبق الامام، صفحه:167، حدیث:427۔

2 …بهارِ شریعت، جلد:1، صفحه:560، حصه:3۔

## دولسو ديني كارونو كښې يو ديني كار هفته واره "مدني مذاكره"

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د فيضانِ اعلٰـى حضرت حاصلولو، علمِ دين زده كولو او د عمل جذبه بيدارولو د پاره د عاشِقانِ رسول دِيني تحريك دعوتِ اسلامي دِيني ماحول سره وابسته شئ، او دولسو ديني كارونو كښې ښه په اخلاص حِصَّه واخلئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د دِين و دُنيا ډير ثوابونه به حاصل كړئ، د دعوتِ اسلامي دولسو ديني كارونو كښې يو ديني كار هفته واره "مدني مذاكره" هم ده.

اَلْحَمْدُلِلّٰه! شيخِ طريقت، اَمِيرِ اَهلِسُنَّت، حضرت علامه مولانا ابوبلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د اتوار په شپه په مدني چينل باندې براهِ راست (Live) مدني مذاكره فرمائي، د ټولې دُنيا عاشقانِ رسول ديني او دُنياوي مشكلاتو مُتَعَلِّق د هغوئي په خدمت كښې سوالونه كوي او هغوئي د علم و حكمت نه ډك جوابونه وركوي. تاسو هم هره هفته بے ناغه په "مدني مذاكره" كښې شريك كيږئ. اِنْ شَآءَاللّٰه ټخپله به د دې ديني كار بركتونه اووينئ.

## د اسلام حق كيدل ئې زړه ته كوز شو

د كراچئ (پاكستان) يو اسلامي ورور د مدني مذاكرے مُتَعَلِّق خپل تاثرات وركوي، وائي: زه مخكښې غير مُسلِمه ووم، يو ځل ما ته په رَمَضَانُ الْمُبَارَك كښې د اَمِيرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د مدني مذاكرو كتلو او اوريدلو سعادت نصيب شو، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د مدني مذاكرو په بركت د اسلام حق كيدل زما زړه ته كوز شو، آخر كار ما اسلام قبول كړو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره كښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. يوه ورځ تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِه

وَسَلَّم درې ځله اِرشاد اوفرمائيلو: ”زما په نائب دِ د **اللّٰه** پاك رحمت وي، عرض اوکړے شو: حُضُور! ستاسو نائب څوك دے؟ اوئې فرمائيل: زما د سُنَّتو سره محبت کوونکي او نورو ته زده کوونکي. (1)

| | |
|---|---|
| سُنّت کے مطابق میں ہر اِک کام کروں کاش! | تُو پیکرِ سُنّت مجھے اللہ بنا دے(2) |
| اے کاش! زما هر کار شي د سُنَّتو مطابق | پيکر کړې د سُنَّتو ما، زما خوږه مَولیٰ |

## د اُمَّت سره همدردي کول سُنَّتِ مصطفٰی دي

**فرمانِ مصطفٰی** صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **اللّٰه** پاك ما ته درې سوالونه [يعني غوښتل] عطا کړل، ما دوه ځله (خو په دُنيا کښې) عرض کړل ”اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِاُمَّتِيْ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِاُمَّتِيْ“ اے اللّٰه! زما اُمَّت اوبخښې! اے اللّٰه! زما اُمَّت اوبخښې! او دريم عرض مې د هغه ورځې (يعني قيامت) د پاره ساتلے دے. 3

**اے عاشقانِ رسول!** د اُمَّت سره همدردي کول د مکّي مَدَنی مُصطفٰی صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي. ❀ خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وِلادت په وخت هم مونږ اُمَّتيان ياد کړي وو، ❀ د معراج په شپه ئې هم د **اللّٰه** پاك په بارګاه کښې ياد ساتلي يُو، ❀ د وصال شريف نه پس قبرِ انور ته د کوزولو په وخت کښې هم د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شونډو مبارکو باندې د اُمَّت د بخښنې او نجات دُعاګانې وے، ❀ د آرام په شپو کښې چې ټول جهان به آرام کولو، خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به خپله بستره مبارکه پريښودله او

---

1...جامع بیانِ عِلم، بَابُ:عِلم کے فضائل، جلد:1صفحہ:201، حدیث:220۔
2...وسائل بخشش، صفحہ:118۔
3...مسلم، کتاب:مسافروں کی نماز، صفحہ:294، حدیث:820۔

د **اللّٰه** پاك په بارګاه کښې به ئې زمونږ ګنهګارو د پاره دُعاګانې کولې، ❁ د قيامت په ورځ د سختې ګرمئ په حالت کښې به خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **اللّٰه** پاك په بارګاه کښې په سجده کښې پريوځي او د اُمَّت د بخښنې درخواست به کوي، ❁ د خپل اُمَّت د نيکو تَله به درَنَوِي، ❁ په پُلِ صِراط باندې به ئې په سلامتيا سره پورې باسي، ❁ د حوضِ کوثَر نه به پرې جامُونه څښې، ❁ دوزخ ته غورزيدلې اُمَّتيان به را اوباسي، ❁ بخپله به غمژن وي او مونږ ته به خوشحالئ را عطا کوي، ❁ د خپلو نوراني اوښکو په ذريعه به د اُمَّت ګناهونه وينځي.[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږ له هم پکار دي چې مونږه هُم د خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّتيانو سره همدردي اوکړو، مسلمانانو سره د مهربانئ سلوك اوکړو، د هغوئي په درد او تکليف کښې مرسته اوکړو، د هغوئي د پاره دُعاګانې اوکړو، د هغوئي خير ښيګړه اوغواړو، چې څومره کيدے شي مسلمانانو سره خيرخواهي اوکړو، **اللّٰه** پاك دِ مونږ ټولو ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

---

1... تفسیر صراط الجنان، پارہ:4، سورۃ آلِ عمران، جلد:2، صفحہ 87۔

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ
الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَ عَلٰی اٰلِهٖ وَ صَحْبِهٖ وَ سَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمُعې او زیارت مینځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صلَّی اللہ علیهِ والهٖ وسلَّم دِیدار کوي او قَبُر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صلَّی اللہ علیهِ والهٖ وسلَّم به هغه قَبُر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِ نَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا انَس رضی اللہ عنہ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صلَّی اللہ علیهِ والهٖ وسلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿3﴾د رَحمت اویا دروازے:

صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته کړے شي.[2] راځئ چې

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا
2...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپې لا که دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپې و لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صلی اللہ علیہ والہ وسلم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رضی اللہ عنہ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَۀ کرام رضی اللہ عنہم حيران شو چې دا څوک ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صلی اللہ علیہ والہ وسلم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صلی اللہ علیہ والہ وسلم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

2...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صلّی اللہ علیہ واٰلہ وسلّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صلّی اللہ علیہ واٰلہ وسلّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1...الترغيب والترهيب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵